
## مطبوعاتي اعلامیه

## د پانامې اسنادو څرګنده کړه چې ډیموکراسي د فساد ساتنه کوي

## واقعي، اغېزمنه او پر وخت حساب ورکونه یوازې پر نبوي طریقه خلافت کې شونې ده



د ۲۰۱۷م کال (JIT)د لومړي وزیر، نواز شریف استعفا غوښتنې تر هغې وروسته ډېر زور واخیست چې ګډې پلټونکې ډلې د جولای پر ۱۰مه د پانامې د افشا شوو اسنادو په تړاو خپل د پلټنې راپور سترې محکمې ته وسپاره. د ګډې پلټونکې ډلې راپور په پایله کې چې لومړی وزیر او اولادونو یې خپله شتمني نه وه په ډاګه کړې او د دوی ژوند تر اعلان شوو شمتنیو ته وړاندې شي. هېڅوک باید **(NAB)**ډېر په لوړ معیار کې و، نو ځکه نوموړې موضوع به د ملي حساب ورکونې ادارې د ( ۲۰۱۲ ز) کال د جون د میاشې هغه قضیه هېره نه کړي چې د پاکستان د هغه وخت لومړی وزیر یوسف رضا ګېلاني دی په واک کې پاتې (PPP) د سترې محکمې له لوري بې صلاحیته شو، خو پاکستاني حکومت او د پاکستان د خلکو ګوند کړ. سربېره پر دې نوی لومړی وزیر، راجه پرویز اشرف هم د همدې ګوند څخه ونومول شو، په داسې حال کې چې نوموړی د بډو اخیستنې له امله په مالي فساد تورن و، د ملي حساب ورکونې ادارې تر پلټنو لاندې و او هغه مهال دی د اوبو او برېښنا وزیر و. نو دا ځل هم که د لومړي وزیر د مسلم لیګ-نواز ګوند له واکه ګوښه کړل شي، واکمن ګوند به په ډېره اسانی سره یو بل فاسد واکمن و ګوماري، تر څو دغه دوره بشپړه کړي. ربښتیا چې ډیموکراسي د فساد ساتونکې ده.

په ډیموکراسي او یا هم بل د انسان په لاس جوړ شوي نظام کې د واکمنانو واقعي، اغېزمنه او پر وخت حساب ورکونه ناشونې ده. لکه څنګه موږ په ټوله نړۍ کې د پانامې اسنادو او نورو ګڼو دوسیو له لارې په ښکاره ډول ولیدل، چې ډیموکراسي مفسدو واکمنانو ته د واک په درشل کې فرصت ورکوي، چې د واک او مالي سرچینو څخه په ګټې اخیستنې سره

پرېمانه شتمنۍ په لاس راوړي. همدا راز دوی ته له محاکمې څخه د تېښتې ګڼې لارې برابروي او د فساد پټولو لارې چارې ورته ښيي. فاسد واکمانان په ټوله نړۍ کې تر کلونو کلونو ځېړنو او د محکمو تر بهير روسته، د کره شواهدو سره سره بيا هم مجرم نه پيژندل کيږي. واقعي، اغېزمنه او پر وخت حساب ورکونه د هغو خلکو لپاره چې په واک کې دي او د دولت مالي سرچينې يې په لاس کې دي، يوازې د نبوت پر طريقه خلافت کې شونې ده، چې هغه قانون پلی کوي چې الله سبحانه و تعالی نازل کړی دی، نه هغه قانون چې د انسان په لاس جوړ شوی دی. د ابو حميد الساعدي  څخه روايت دی چې کله .رسول الله صلی الله عليه وسلم يو تن د ابن لتبيه په نامه د الازد له قوم څخه د زکات را ټولونکي په توګه په کار وګوماره چې  ای پېغمبره صلی الله عليه و سلم!  :چې نوموړی کار کوونکی د زکات د مال سره يوځای را ستون شو نو وه يې ويل دغه مال ستاسو دی او دغه نور زما دی، ځکه دا يې ماته ډالۍ کړی." رسول الله صلی الله عليه وسلم دريځ ته وخوت او د الله سبحانه و تعالی حمد او ثنا يې وويله او ويې فرمايل:

**« مَا بَالُ الْعَامِلِ نَـبْـعَـثُـهُ فَيَأْتِي يَقُولُ هَذَا لَكَ وَهَذَا لِي فَهَلاَّ جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ وَأُمِّهِ فَيَـنْـظُـرُ أَيُهْدَى لَهُ أَمْ لاَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ يَأْتِي بِشَيْءٍ إِلاَّ جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَـبَـتِـهِ إِنْ كَانَ بَعِيرًا لَهُ رُغَاءٌ أَوْ بَقَرَةً لَهَا خُوَارٌ أَوْ شَاةً تَيْعَرُ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَتَيْ إِبْطَيْهِ أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ ثَلاَثاً»** (بخاري او مسلم)

*ما يو تن ته دنده ورکړه چې زکات را ټول کړي، دی راغی او وايي: "دغه يې ستا او دا يې ما ته ډالۍ راکړې. بيا يې وفرمايل: که دی د پلار يا مور په کور کې پاتې شوی وای، نو ايا ده به ډالۍ ترلاسه کړې وای ؟ پر هغه الله قسم چې د محمد روح د ده په واک کې دی، که هر يو له تاسو څخه کوم شی په ناجايزه توګه واخلي، نو د قيامت په ورځ به د الله دربار ته په داسې حالت کې راځي چې پر اوږو به يې بار  وي. خبردار اوسئ! زه داسې څوک پېژنم چې د الله حضور ته به له اوښ سره راشي چې رمباړې به وهي يا به له غوا يا پسه سره راشي، چې بوغې به وهي. وروسته ده خپل لاس دومره اوچت کړ چې د ده د مبارک تخرګ سپينوالی مو وليد او  درې ځلې يې و ويل: "اې الله ما ستا امر ورسوه".*

حزب التحرير- ولايه پاکستان، د پاکستان مسلمانانو ته خبرداری ورکوي چې د ډيموکراسۍ تر چتر لاندې دا ډول د فساد ضد ډرامې هيڅ مثبتې پايلې نه لري. تر دغې ډرامې وړاندې د مشرف د پوځي قانون دوره "د ډيموکراسۍ د بيا منځته راتلو دوره" او د پاکستان د خلکو ګوند "د قضا بيا منځته راتګ دوره"  هيڅ ښه والی او مثبت بدلون را نه ووست او فساد لا هم هغسې دوام لري. دغه راز به په راتلونکې کې هم ډيموکراسي کوم ښه والی او مثبت بدلون را نه ولي، ځکه چې هره اداره د تاسو ته  بريتانوي هند راج څخه د ورپاتې کفري قانون سره سمې خپلې کړنې تر سره کوي. دغه د ډيموکراسۍ ډرامې دروغجنې هيلې درکوي، ترڅو تاسې د نبوت پر طريقه د خلافت د بيارا‌تګ له لارې د واقعي بدلون له کار کولو څخه منع کړي. د ډيموکراسۍ له ډرامو څخه مخ واړوئ او خپلې ټولې هڅې د خلافت د بيا تاسيس لپاره مصرف کړئ، چې د واقعي، اغېزمن او پر وخت حساب ورکوونکو واکمنانو يوازينی ضامن دی.

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**